ژباړه او څېړنه : رحمت آریا نېټه ۲۰۱۱-۰۱-۱٦

د تأریخ هینداره

پنځمه برخه

۴ـ لغمان

[لن – پو Lan-po] یا لغمان هونځانګ را یاد کړی او وایي چې د کاپیسین په ختیز کې د ۶۰۰ لي یا ۱۰۰ مایلو په پراخوالي د یوه ښار نوم دی. نوموړی وایي چې لن پو ته را غځیدلی سړک دغونډیو او دَرو د ځالو له منځه را تیر شوی چې په ځینو ځایونو کې غرونه او غونډۍ زښته زیاتې لوړې دي. دغه شرحه د سیمې له اوسني سړک سره چورلټ ډډه لګوي چې د اوپیانو له شماله د سیند تر غاړې لغمان ته را غځېدلی دی. د سړک ځانګړتیا او اوږد والی کټ مټ لغمان ته نغوته کوي او په دې توګه د اوپیانو او لغمان په پیژندنه کې هېڅ شک نه پاتې کیږي. بطلیموس هم په همدغه ځای کې د [لمباتي Lambatae] په نامه توکم ته ځای ورکوي. د مډرن لغمان د موقعیت او د نوموړي اصطلاح په پرتله کولو داسې ښکاري چې ددغه ځای او توکم نوم د سانسکریت [لمپه که Lampaka] وو. له دې امله زه د بطلیموس په [لمپاتي] کې غواړم یوه سمونه راولم او د [ت] پر ځای د [ګ] په بدلولو هغه په [لمپاګي Lampagae] را واړوم. لمپه که د معاصر لغمان نوم بڼه ده چې په ویلو کې د پاس شونډېزي بڼې په غورځولو په تالو کې ویل کیږي. همداشان د منځني بېواکه غږ په ویلو لغمان ویل کیږي چې دا کار په ختیز کې دود دی. یو شمېر ساده بډانګه مسلمانان په دې باور دي چې د لغمان د نامه سرچینه د [لمک Lamech] له نامه راغلې او وایي چې لمک د قبیلې مشر وو او قبر یې لا تر اوسه په لغمان کې شته. دا خبره بابر او ابوالفضل دواړو په خپلو یادښت لیکنو کې را یاده کړې ده. هونځانګ وایي چې لغمان ټول ټال ۱۰۰۰ لي یا ۱۶۶ مایله پراخ دی چې په شمال کې یې په واورو پوښلي غرونه او تر نورو دریواړو خواوو یې توري غونډۍ را تاو دي. له دغې شرحې په څرګنده ښکاري چې [لان پو] کټ مټ د معاصر لغمان له جغرافیوي ځانګړتیا سره ډډه لګوي چې یوه کوشنۍ ډډه یې د کابل د سیند په شمالي څنډې کې پرته ده ، په لوېدېز او ختیز یې د الینګار او کونړ سیندونه بهیږي او شمال ته یې په واورو پوښلي غرونه ولاړ دي. د ځمکې دغه کوشنۍ ټوټه په یوې څلور څنډېزې کې پرته ده چې د هرې څنډې اوږدوالی یې ۴۰ مایله او ټوله ځمکه یې ۱۶۰ مایله کیږي. لغمان پخوا یوه خپلواکه پاچاهي درلوده خو په ۷ پیړۍ کې شاهۍ کورنۍ ورکه شوه او دغه ځای د کاپیسین په اړوندو سیمو واوښتله.

۵ـ نګره هاره Nagrahára یا جلال آباد

چینائي زائر له لغمانه ۱۰۰ لي یا ۱۷ مایله وړاندې د سویل ختیز پر لور وخوځېد او له سینده په اوښتلو یوه ځای ته ورسید چې نګره هاره نومیده. د چنائي زائر دغه شرحه هم د موقعیت او هم د واټن له اړخه له هغه نامه سره ډډه لګوي چې بطلیموس د [نګرې Nagara] په نامه یاده کړې چې د کابل د سیند په سویل کې او د جلال آباد په نېږدې چم ګاونډ کې پرته ده. هونځانګ دغه نوم د [نکي لو هو Na-ki-lo-ho] په بڼه لیکلی مګر [M. Julien] د همدغه نامه بشپړه سانسکریتي بڼه د [سانګ Song] د پاچاهي کورنۍ د پېښلیک لیکنې [شرح وقایع] په یادښت لیکنو کې موندلې چې په هغه کې د [ننګ –ګو-لو-هو Nang-go-lo-ho] په بڼه لیکل شوی دی. و ګورئ [Hiouen Thsang,ii ۹٦. note] جګړن [Kittoe کیتو] د بیهار د [غورساوا Ghorsává] په ورانو کنډوالو کې ددغه نامه سانسکریت بڼه هم موندلې ده . وګورئ [Journ. Asiat. Soc. Bagal. ۱۸٤۸.pp.٤۹۰, ٤۹۱] ویل شوي چې د ننګرهار پراخوالی له ختیزه تر لوېدېزه ۶۰۰ لي یا سل مایله ، او پسور یې د شمال له پورتنۍ برخې د سویل پر لور ۲۵۰ لي یا ۴۲ مایله دی. د ننګرهار طبیعي کرښې په لویدېز کې د جګدلک غاښې ، په ختیز کې د خیبر غاښې او په شمال کې د کابل سیند او په سویل کې یې سپین غر دی. په دغه محدوده کې په نقشه کې د ننګره هاره پراخوالی ۷۵ په ۳۰ مایلو کې راځي او د اوسمهال د سړک د میچ اخیستلو په شمار هغه شمیره موږ ته په لاس راکوي چې هونځانګ ورڅخه یادونه کړې وه. داسې ښکاري چې د نګره هارې د پلازمینې ځای ځایګی او نوم بګرام وو چې د جلال آباد د لوېدېز په ۲ مایلي واټن کې او د هدې د لویدېز- شمال- لویدېز په ۵ یا ۶ مایلي واټن کې پروت دی ، دغه ځای که له هر اړخه وڅېړو د چینائي زائرینو له هغه نامه سره ډډه لګوي چې د [هي لو Hi-lo] په نامه یې یاد کړی وو. د [هیلو Hilo] ښارګوټي یوازې ۴ یا ۵ [لي] چې د یوه مایل یو په دریمه برخه کیږي، پراخوالی درلود ، خو دا ځای ځکه ډېر نامتو او سپېڅلی وو چې دلته د بودا د کوپړۍ هډوکي ول چې په یوې ستوپې یا په یوه لوړ ګرد برج کې ایښودل شوي ول او د هغه زیارت ته یوازې هغه څوک ورتلای شول چې د سرو زرو یوه ییکۍ به یې زیارت ته ډالۍ

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړه. د جلال آباد د سویل په پینځه مایلي واټن کې هده یو کوشنی کلی دی خو دا کلی ځکه ډیر نامتو دی چې دلته پریمانه بودایي ستوپې ، ګورپشتي او سمځي جوړې شوې او ښاغلي میسن ټولې بې په ډېرې بریا پلټلې دي. په دغه ځای کې چې چنائـي زائـرین ورته نغوته کوې د لرغونو مهالونو بې شمېره بودایي آثارو موندل کیږي ، دا په خپله موږ ته د زباد لپاره ډاډمن قناعت را کوي چې د چینایي زائـرینو[هیلو] د اوسمهال هډه ده. د هیلو نوم بنه په خپله هغه مهال په زباد رسیدلای شي چې دغه نوم د هغه له چینایي اصلي سیلاب [هیره Hira] یا [هېډه Hida] سره همغږی ومومي. مرکز بې باید د بګرام په دښته کې پروت وي میسن وایي « دغه ځای په ټولیز ډول له ګورپشتو او په لاس جوړو شویو غونډیو څخه جوړ شوی دی » میسن زیاتوي « دا ټولې غونډۍ په یوې ناورین ځپلې چوپتیا کې ولاړې دي. مګر ټوپې په خپلې ویاندې ژبې وایي چې یو مهال دلته یو ستر پرتمین ښار ولاړ وو ، او یا دا یو نامتو سپیڅلی ښار وو چې د سپڅلتیا انګازې بې هرې خواته خورې ورې وې. ښایي دغه پرتمین ښار دغه دواړه ځانګړتیاوې درلودې.» و ګورئ : [Travels,' ii. ١٦٤] زما په اند د [هېډې Hidda] د کره نامه په تورو کې وړلاندې وروسته والی راغلی دی او دغه یوازینی ولاړندې وروسته والی د [هډي Haddi] په تورو کې ده چې په پښتو کې د [هډ او هډوکو] مانا ښندي ځکه د چینائـي زائـرینو د یادښت لیکنو پر بنسټ دلته د بودا د کوپړۍ هډوکي ول و ګورئ : [Hiouen Thsang.i,٧٧] چینایي زائـرینو د هډي د تورو جوړښت په چینایي سیلابونو اړولی او له هغه څخه بې د هیلو نوم جوړ کړی دی ؛ د همدغه چینایي زائـر په بل یادښت لیک کې ویل شوي [Fo-ting-ko-ching] چې یوازینۍ چینائـي ژباړه بې د [بودا د کوپړۍ د هډوکو ښار] کیږي. د دغې رسالې په لړ کې غواړم ووایم چې د بودایي دین په تأریخ کې د نومونو او ځایونو د لنډونګ دود خورا پراخ وو. له دې امله دغه دود زما په ذهن کې دا خبره را ژوندۍ کوي چې ډیره شوني ښکاري د بودا د کوپړۍ هډوکي د بودایي پوهانو په منځ کې د [استـهیـپورې Asthipura] په آشنا نامه یادیدل حال دا چې د عامو وګړو په منځ کې د [هډي پورې Haddipura] په نامه یادیدل او دواړه بې د [هډوکو د ښار] مانا ښندي. همدې ته ورته د [شیوا Siva] د [کوپړۍ امیل] هم د [استي مالا asthimálá] په نامه یادیږي چې د [هډوکو د امیل] مانا ښندي. پوهاند لسن لا ډیر پخوا د بطلیموس د [Dionysopolis] یا [نګارا Nagara] له مخې د [نګره راهاره Nagarahára] نوم پیژندلای وو چې د بطلیموس په وینا د کابورا او اندس په نیمایي لاره کې پروت دی. د نګرې له نامه ښکاري دا هغه ځای دی چې آریان د [نیسا Nysa] په نامه پیژندلی چې د موقعیت او لوی والي له اړخه کټ مټ هماغه نګره ده. [د ژباړونکي یادونه : د یونان د رب النوعو په اساطیرو کې ویل شوي چې نیسا هغه ځای دی چې رب النوع دایانیسیس Dionsysus په کې زېږېدلی او له دغه ځایه د نړۍ ټولو سترو ښارونو او برخو ته لېږل شوی چې هر چیرې د انګورو ودې ته پراختیا ورکړي. دایانیسیس د خمر ، طرب او شرابو رب النوع دی] او کیدای شي دغه نوم خپله جرړه د ابوریحان په [دینوس Dinus] یا [دینوز Dinuz] کې ساتلې وي، ابوریحان وایي چې په دغه نامه ځای ، د کابل او [پره شاور Parasháwar] په نیمایي لاره کې پروت دی. وګورئ [Reinsud's "Fragments" p.١١٤] د سیمه ییزو روایاتو پر بنسټ ددغه لرغوني ښار نوم [اجونا Ajúna] وو. و ګورئ [Masson's Travels.ii.١٦٤] او زما په اند کیدای شي دا په یوناني نوم [Δίov] کې وپلټل شي لکه د [یامونا Yamuna] یا [جومنا Jumna] سیند چې بطلیموس په سویل کې د [دیامونا Diamuna] په نامه یاد کړی او په سانسکریت کې د [یاماس yamas] یا [جاماس jamas] په بنه ویل شوي او پلیني د [دیاماسا Diamasa] په نامه یاد کړی دی. و ګورئ [Hist. Nat. vi.c.٢٢] ډېره شوني ښکاري چې د [اجونا] په نامه کې دې د غرېز توري ځای بدلونګ رامنځته شوی وي چې په پالي ژبه کې سمه بنه بې [اوججانه Ujjána] او په سانسکریت کې سهې بنه بې [اودیانه Udyána] ده او د [بن / باغ] مانا ښندي لکه چې ښاغلي [M.Vivien de St. Martin] وایي [اودیانه پوره Udyánapura] د [نګره هارې Nagarahára] لرغونی نوم وو. وګورئ [Hiouen Thsang.iii.٣٠٥]. که دا پیژندنه سمه وي نو د هیڅ شک ځای نه پاتې کیږي چې د نګره هارې پلازمینه بګرام وو چې ما مخکې ورڅخه وړاند وییه وکړه. هیڅ شک نه شته چې د یوناني قلمرو په ټوله دوره کې د [Dionysopolis] نوم کارول شوی دی ، د آریانا د یوناني شاهانو د ضرب شویو بیکیو کې په مونوګرام کې یو عمومي وییکی د [ΔION] په ډول لیدل کیږي ، د کلاسیکو لیکوالانو د لیکنو پربنسټ دا نوم یو هندي نوم نه شي کیدای، د [ΔION] نوم د [Dionysopoli] را لنډ شوی نوم په خپله بنه کې ساتلی دی. بل چینائـي سیلانی فاهیان دی چې په پینځمه پیړۍ کې سیمې ته راغلی وو، فاهیان وایي چې ددې سیمې نوم [ناکي Na-kie] یا نګره وو او زیاتوي چې دلته یو خپلواک دولت وو او خپل پاچا بې درلود. ٦٣٠ ز کال هغه کال دی چې د هونځانګ له لیدنګ سره سمون خوري ، دغه ځای په هغه مهال کې پاچا نه درلود او د کاپیسین تر ولکې لاندې وو. له دغه پیر وروسته کیدای شي نګرې د یوه خپلواک دولت برخلیک راخپل کړی وي او وروسته د کابل د برهمني او بیا د غزني د ستروا کې یوه برخه ګرځېدلی وي.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۶- گندهارا یا [پره شاور]
[پیښاور – ژ]

د الکساندر د لښکر د تأریخ مدعیانو د گندهارا نوم نه دی یاد کړی؛ خو گندارا د سترابو له پلوه په سمه او بشپړه توگه شرحه شوې او وگړي یې د [گنداریتیس Gandaritis] په نامه یاده کړې سترابو وایي چې گندارا د کوفس د سیند پرغاړه د [کواسپس Choaspes] او اندس تر منځ پروت دی. په همدغه موقعیت کې بطلیموس د [گندرئي Gandar æ] په نامه یوې سیمې ته ځای ورکوي او وایي چې دغه ځای د اندس له پاسه د کوفس او اندس د سیندونو د یو ځای کیدنې په نیږدې چم گاونډ کې پروت دی. چینائي زائرینو دغه نوم ، هم د گاندهاره Gândhâra] او هم د [کین تو لو Kien-to-lo] په نومونو یاد کړی او ټول وایي چې د اندس په لوېدیز کې پروت دی. دوی وایي ددغه ښار پلازمینه یا مرکز [په له شه پولو / پولوشاپولو Pu-lu-sha-polu] دی ځینې یې د [پره شاپوره Parashapura] په نوم یادوي او وایي چې له اندس څخه د لویدیز پر لور د درو یا څلورو ورځو په پلي مزل لېرې او د یوه لوی سیند په سویلي غاړه کې پروت دی. دغه شرحې کټ مټ د پیښاور له موقعیت سره ډډه لگوي او د اکبر د پاچاهۍ تر مهال پورې د [پره شاور Parasháwar] په نامه یادیده ، دغه نوم په همدغه بڼه د ابوالفضل ، بابر او ابوریحان او د لسمې پیړۍ د عربو جغرافیه پوهانو له پلوه هم لیکل شوی دی. چینایي زائر فاهیان یې په ساده بڼه د [فولوشا Fo-lu-shá] یا [پره شا Parashá] په نوم یادوي او وایي چې پلازمینه یې له نگره هارې څخه ۱۶ [یوجانزه yojans] چې نیږدې ۱۱۲ مایله کېږي ، لېرې وه. خو هونځانگ دغه واټن ۵۰۰ لي چې ۸۳ مایله کیږي ، ښیي او څرگنده ده چې نوموړی په دغه شمیره کې تیر وتلی دی ، که څوک په بگۍ کې له جلال آباده څخه پیښاور ته راځي باید ۱۰۳ مایله لاره ووهي چې د ۲ مایلو په زیاتولو د جلال آباد په لوېدیز کې د بگرام له ټکي څخه باید خپل سفر را پیل کړي. د پیښاور کرښې په سمه توگه نه دي شرحه شوي خو د پراخوالي په اړه یې ویل شوي چې له ختېزه تر لوېدیزه ۱۰۰۰ لي یا ۱۶۶ مایله او له شماله تر سویله ۸۰۰ لي یا ۱۳۳ مایله پراخ دی. ښایي دغه اوږدوالی د [بارې Bara] او [توربېلې Torbela] یا د کونړ او توربېلې د سیندونو ترمنځ د واټن له مخې اخیستل شوی وي چې د نقشې پر بنسټ ۱۲۰ مایله کېږي او یا د سرک له لارې ۱۵۰ مایله کېږي. او پسور یې هم په همدې بڼې شوی چې د بونیر د غونډیو له کرښې له بازار Bazár څخه د کوهاټ تر کرښو پورې سل مایله او د سرک له لارې ۱۲۵ مایله کېږي. له همدې شمیرې څخه په راکمولو د گندهارا پراخوالی ویل شوی او ویل شوي چې په لویدیز کې یې لغمان او جلال آباد ، د سوات او بونیر غونډۍ یې په شمال کې او په ختېز کې یې اندس او په سویل کې یې کالاباغ ښودل شوی. په همدغه محدوده کې د لرغوني هندوستان څو سپیڅلي او پرتمین ځایونه شته چې ځینو یې د الکساندر د زیبښاکگرو د واکمنیو پر مهال وده او پراختیا موندلې او ځینې یې د معجزه گرو بودایي شاهانو پر مهال غوړېدلي دي د بودیزم د تأریخ پر بنسټ دغه ځایونه په ځانگړې توگه د ایندو – ساکي واکمن کنشکا پر مهال خورا زیات غوړېدلي دي. بطلیموس له څو [گنداري Gandaræ] ښارگوټو څخه یادونه کوي چې [نولایب Naulibe] ، [ایمبو لیما Embolima] نومیږي او وایي چې پلازمینه یې [پروکالیس Proclaïs] ده. دا ټول ښارگوټي د کوفس په شمال کې ښودل شوي ، همدا شان د الکساندر تأریخ لیکونکي د [اورا Ora] ، [بزاریه Bazaria] او [اورنس Aornos] ښارونه هم یادوي. پره شاور په خپله او یوازې د کوفس د سیند په سویل کې ښودل شوی دی. د نولایب او اورا په اړه نه شم کولای ډېر مالومات وړاندې کړم ځکه چې نه دي پېژندل شوي. خو ښایي نویلاب ، [نیلاب Niláb] وي چې د اندس د سیند پر غاړه د یو مهم ښار نوم وو مگر بطلیموس د نیلاب ښار ته په نام سم ځای کې ځای ټاکي او وایي چې نیلاب د کوفس په سویل کې دی. زه وړاندیز کوم چې ددغه ښارگوټی موقعیت دې په ځیر و پلټل شي او په هغه کې دې هغه کوشنۍ سیمې او کلي هم راگډ کړي چې چینایي زائرینو ورڅخه یادونه کړې ده.

پاتې بیا

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ